**د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت**

**ننګرهـــــــــار پوهنتـــــون**

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی**

**ماستــــــــــــــرۍ برنامه**

**فقـــــــــهي قـــــــواعـــد**

# موضوع: د کوچنیانو د ملاتړ قانون او له اسلامي شریعت سره یې پرتله


**لارښوود استاد: دوکتور برکت الله تائب**

**لیکنه: محب الله الله یار**


کال: ۱۳۹۸هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

**خلاصه**

د کوچنیانو د حقوقو د ملاتړ قانون طرحه د ۱۳۹۷ /۱۴/۱۲ د افغانستان جمهوري ریاست کابینې لخوا په ۱۶ فصلونو او (۱۰۸) مادو کې د تقنیني فرمان په توګه تصویب کړې چې ډېرې برخې او مادې یې د اسلامي شریعت سره په مطابقت کې دي؛ خو د قانون ځینې برخې چې د اسلامي شریعت له روحیې سره ستونزه لري او قابل د اعتراض دي، هغه د نوموړي قانون ۳ ماده چې ګڼ موارد یې قابل د اعتراض دي او ما هم ځای پر ځای قلمي بحث لاندې راوستې ده. نوموړې ماده چې د اتلس کلنۍ عمر د نه بشپړاوي اړخ د کوچنیوالي پورې محصر بولي اسلامي شریعت سره د بلوغیت له اړخه، د افغانستان د اساسي قانون د دریېمې مادې له متن سره، د قانون د حکم له محتواسره او د مدني قانون د ۷۰ مادې سره په ټکر کې واقع موارد لري.

دغه راز ۱۲ ماده چې د عقیدې بحث په کې نه دی شوی قابل د اعتراض او نیوکې ځکه دی چې اسلام د انسان پر عقیده ټینګار او باور لري څو د الهي احکامو سره په مغایرت کې نه وي خو دا ماده په اړه کوم صراحت نه لري.

د قانون ۱۸ ماده، ۵۷ ماده، ۹۷ او ۱۰۲ مادې هم په خپل ځای تر قلمي بحث لاندې نیول شوي او پر شته اعتراض ورته لیکل شوي دي.

د دغو نیوکو له وضاحت موخه دا ده چې افغانستان یو اسلامي او سنتي هېواد دی، دلته د اسلامي ارزښتونو او له اسلامي شریعت سره په مغاریت کې له هر رامنځته کېدونکي قانون محتوا څخه ولس خبر شي څو پردي ونه کړای شي په شکل د اشکالو په اسلامي امت خپل مغرض اغراض ومنلی شي.